# د *ځدمت مشره* ډاکټر Syreeta McTier د دې کال د DCSD د تعليمي ملاتړ د تر ټولو غوره دوهمي متخصصي په توګه وياړل شوه

ډاکټر Syreeta McTier د زيړون له ورځې راهيسې د نورو خلکو خدمت کولو په خاطر روزل شوې. ډاکټر Syreeta McTier د زيړون له ورځې راهيسې نورو خلکو ته د خدمت وړاندې کولو په خاطر روزل شوې. خدمت ته د هغې ژمنتيا د دې لامل شوه چې هغه د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (*DCSD*) د 2024 - 2023 کال په وروستي مني کې د ولسوالۍ د لسم کلنۍ اکاډمۍ تعليمي عالي جايزې په جريان کې د کال د تعليمي ملاتړ د تر ټولو غوره دوهمي متخصصي جايزې لپاره ونومول شوه. ډاکټر McTier د هغه معتبر وياړ لپاره مننه وکړه کوم چې هغې د Smoke Rise ابتدايي ښوونځي کې د مرستيالې مديرې په توګه ترلاسه کړ.

هغې وويل چې "د دې معتبرې جايزې ترلاسه کول د خوشالۍ او هو ساينې يوه ريښتني وسيله ده کوم چې زما د کار کيفيت او د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ ته زما د ژمنتيا او د مرستې ځرګندوم کوي."

ډاکټر McTier د 21 کلونو راهيسې د DeKalb کاونټي په ښوونځيو کې د ښوونکي په توګه کار کوي. د هغې مور چې د کاليفورنيا د Compton په ټولنه کې د دريو لسيزو راهيسې يوه متحرکه ښوونکې او د يادې ټولنې يوه مهمه برخه وه هغه يې د ښوونکي کيدو لپاره هڅولې وه. د هغې د مور ميراث هغې ته دا ښوونه وکړه چې ښوونکي د نسلونو لپاره په زده کوونکو او د هغوي په کورنيو باندې د تاثير کولو ځواک لري.

ډاکټر McTier وويل چې "د خپل 34 کلن مسلک په جريان کې ما د خپلو پخوانيو زده کوونکو ماشومانو او لمسيانو ته تدريس کړی. زما مور د ښوونکي په توګه زما رول ماډل او الهام ښوونکې ده." "د خپلې مور د مثال له امله ما زده کړه د خپل خدمت د لارې په توګه غوره کړه. د هغې په نقش قدم باندې د تګ پرمهال دا ځانګړی وياړ ترلاسه کول د هغې د تاثير شاهد دی.

ډاکټر McTier خپل مسلک د Jolley ابتدايي ښوونځي کې د ښوونکي په توګه پيل کړ کوم ځای چې هغې شپږ کاله کار وکړ. له هغې وروسته هغه په Robert Shaw Traditional Theme ښوونځي کې مرستياله مديره شوه او څلور کاله يې هلته دنده ترسره کړه. له هغې وروسته هغه Smoke Rise ابتدايي ښوونځي ته لاړه او هلته له 11 کلونو راهيسې ده. هغې د دې خبرې ځرګندونه وکړه چې زه دا خبره خوښوم چې زه د Smoke Rise ابتدايي ټولنې برخه يم.

هغې وويل چې "زموږ د ښوونځي چاپيريال تود او د پاملرنې وړ دی کوم چې د زده کوونکو په وده او لاسته راوړنو متمرکزه تمرکز لري." "د زده کونکو، ښوونکو، کارمندانو، مديرانو، اداري کارکوونکو، والدينو، کورنيو او د ټولنې د غړو پشمول حيرانووکي خلک د Smoke Rise ابتدايي ښوونځی د کار، زده کړې او ودې لپاره د يو ځانګړي ځای په توګه رامنځته کوي. پداسې حال کې چې موږ هر يو بيلابيل مسوليتونه لرو خو موږ د زده کوونکو بريالیتوب لپاره په ګډه کار کوو.

د جنوری په مياشت کې، Smoke Rise د ډاکټر McTier او د ښوونځي نورو کارمندانو ته د درناوي لپاره جشن جوړ کړ. د دې غونډې په جريان کې د Tucker ښار ښاروال Frank Auman ډاکټر McTier ته د DCSD د تعليمي ملاتړ لپاره د کال تر ټولو غوره دوهمي متخصصي جايزې لپاره د نومول کيدو مبارکي ورکولو لپاره د ستاينې ليک وړاندې کړ.

ډاکټر McTier وویل چې "دا د اتلانو او زموږ مینه والو لپاره په زړه پورې او د یادولو وړ جشن و."

دا نامتو مرستیاله مدیره د مدیر، ښوونکو، کارمندانو، زده کوونکو، والدینو او د ټولنې غړو سره د ښوونې او روزنې د ښه کولو او د زده کوونکو د ودې او لاسته راوړنو په لوړولو کې خورا مهم رول لوبوي. د هغې د دندې ترټولو غوره برخه د زده کوونکو وده لمانځل دي. د خپل تقاعد نه وروسته ډاکټر McTier هیله لري چې د هغې میراث به دا وي چې هغې د نورو خلکو د زده کړې او مسلکي تجربو ته ارزښت ورکړی او د هغوي په ژوند کې يې مثبت بدلون رامنځته کړی.

هغې وویل چې "زما میراث دا دی چې له نورو سره مرسته وکړم ترڅو هغوي خپل هدف ترلاسه کړي، د مینې احساس او د غوره والي الهام وکړي."

**XXX**